مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۱/۱۱/۱۰

# د طالبانو حکومتوالي

د نړۍ په هېوادونو کې ملي غورځنګونه د سیاسي مبارزې پر مهال، د خپلو هېوادونو د ولسونو په زړونو کې هغه مقام خپلوي چې د دوي واک ته له رسیدلو سره سم یې ټول تر شا دریږي او د دوي په پوره عدالت او وطن پالنې کوم شک نه کوي.

خو په هغو هیوادونو کې واک غوښتونکي ډلې چې پر ځان د ولسي غورزنګ نوم ږدي او د بې شمیره انسانانو د وینو په بیه واک خپلوي، د هغوي په واک کې د اوږد مهال له پاره پاتي کیدل امکان نه لري. شالید ته یې پام کیږي، چې په اوسني وخت کې په افغانستان کې د تیر مهال واکدارانو کړنو او اعمالو ته په پام سره، طالبان به څه ډول د ولس په زړونو کې ځای پیدا کړی؟ نو ځکه خو د اوسنیو واکدارانو واکمنې د نویمي لسیزې خاطرې د ولسونو په ذهنونو کې راژوندۍ کوي.

کله چې د جهاد په نامه ټوپکیان د واک پر ګدی باندې کښیناستل، نو ډیرو افغانانو هغه چې په هېواد کې له کورنۍ جګړې ستړي او د ارامه ژوند په ارمان وو، دوي یې ډیر ښه هرکلي وکړ. ټولو د خپل هیواد د سمسورتیا او ارامۍ خوبونه لیدل... هغه مهال په یوه بهرنۍ ورځپاڼه کې یو سیاست پوه لیکوال لیکلي وو: «افغانستان کې د سولې رڼا خپریدونکې ده او دغه هېواد به ډیر ژر د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسیږي.»

هغه د خپلې دغې ادعا له پاره د افغانانو په خاصه توګه د هغو ځوانانو د پوهې او علم په اصطلاح په پوتنشیل اتکا کړې وه چې په خبره یې ډیر شمیر افغان ځوانانو په بهرنیو هېوادونو کې لوړ تحصیلونه کړي دي. دغې مقالې یوه جمله مې اوس هم ټکي په ټکي په یاد ده:

«د افغانستان هغه ځوانان چې په بهرنیو هېوادونو کې په مهاجرت کې رالوی شوي او لوړې زده کړې یې کړیدي، شمیر یې زرونو ته رسیږي، دوي کولی شی خپل هېواد د بیا ودانولو له پاره ګټور کارونه وکړي او د خپلې پوهې او علم پر مټ به په بیلا بیلو برخو کې لکه معماري، انجنیري، زراعت، اقتصاد او نورو برخو کې سیستمونه جوړ کړي او د خپل هېواد دولتي جوړښت به پښو ودروي.»

خو په لږه موده کې په هېواد کې واک ته رسیدلې مجاهدین هرې ډلې د ځان له پاره واک غوښتنه او د ولس ارمانونه د دوي خپل منځي جګړو د اور په لمبو کې وسوزول. په تیر وخت کې هغه پیښ شوي ناورین او په بشري تاریخ کې توره کارنامه ده، چې یادولو ته اړتیا نه شته او ټول پرې ډیر ښه پوهیږي. خو په اوس وخت کې د ځینو مهمو ټکو یادول یې په کار دي اوهغه دا چې، د دې ستره وجه د هر ګوند او قومي ټیکه دار له خوا د خپلې ډلې واک غوښتل و چې په ټولنه کې پر رسیدلي او تحصیل کړیو ځوانانو حساب ونه شو او هغوي بهر هېوادونو ته د مهاجر په توګه تیل وهل شول.

کومه لړۍ چې اوس بیا په ډیره بې رحمۍ روانه ده. دا ساده باید ونه ګڼل شی چې په دې سره اوسنی حکومت په لوي لاس د نابودۍ پر لور ګام ږدی.

د اوسنیو واکدارانو تر سترګو وړاندې ځوانان هېواد پریښودلو ته مجبوریږي. دا خو د لمر په څیر روښانه ده، چې د هیواد په هر وزارت کې مسلکي کدرونو ته اړتیا ده، چې دوی ی ترې برخمن نه دي. د کابل پوهنتون چې باید په لوړه علمي پوهه سمبال کدر یې رهبري وکړی، هغه یې تر اوسه د تش په نامه ریس پر غاړه کړې ده... دا هغه ستره تیروتنه ده، چې دوې د تباهی کندې ته ټیل وهي. ځکه په پوهنتون کې په زرونو ځوانان راټول دي او د دوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

له داسې بې مسلکه ګمارنې څخه په ښه توګه جاج اخيستل کيدای شي، چې په ټولنه کې په ډيرې چټکۍ سره خپريږي او ولسونه ترینه لرې کیږي او کرکه يې زياتيږي.

په داسې يو وضعيت کې بيا د پنجشير مقاومت؟ د ټولو افغانانو زړونه له سختۍ کرکې ډک کړي دي. په داسې حال کې چې زموږ هېواد په څلويښت کلنه جګړه کې سوې سکاره شوې اوس بيا په هيواد کې د جګړې اور بلولو ته لمن وهل کيږي، دا د هيڅا له پاره د زغم وړ نه ده. هغه زور واکې او د هغوی ميراث خواره يې دي چې اوس بيا د واک پر ګدی ناستي ته د ورتلو خوبونه ويني. دوي نه ضمير لري او نه د دوي په ګوګلونو کې زړونه شته چې په دې مظلوم او بيوزله ولس يې وسوزوي. پلرونو خو يې د هېواد ټوله شتمني په بهرنيو هېوادونو کې د دوي له پاره زيرمه کړې، خو لا هم په پوره سپين سترګۍ بيا د جګړې اور بلوي او په دې ډول واک ته رسيدل غواړي.

لکه چې وايي، يو پلو ته پړانګ او بل پلو ته ډانګ دي. په دغه حساسو شيبو کې زموږ ولسونو څخه لاره ورکه ده. طالبانو په خپل تيره پنځه کلنه دوره کې چې کومې کړنې ترسره کړي هغه لا د چا له ياده وتلي نه دي. اوس په ځای د دې چې خپلې ټولې کړنې د حکومتوالۍ له اصولو سره په سم ډول تر سره کړي، دوي هماغسې د روانو اوبو په خلاف مخ پورته روان دی، چې د ولسونو په زړونو کې له دوي څخه واټن نور هم زياتيږي. پوهنتونونه، ښوونځي او نور د زده کړې مرکزونه تړل شوي، مسلکي کدرونه له دندو ګوښه شوی او په ځای يې په نوم ملا يا طالب چې په هيڅ نه پوهيږي په دندو ګمارل شوي او لا ګمارل کيږي. له همدې کبله هغه ځوانان چې وس يې کيږي له هېواده وځي او که يې په وس پوره نه ده نو په کور دننه په ژور خفګان اخته دي. نن مې په کابل ښار کې له يو مدني فعال سره مرکه درلوده، په ټينګار سره يې راته وويل:«پام چې زما نوم وانه خلئ. ځکه دلته په نوم مدني فعال نه پريږدي او وژني يې.»

له بله پلوه پاکستان د خپل پيداينت له ورځې زموږ د هېواد په بربادولو پسې بډې وهلي او د تاريخ په هره دوره او هره برخه کې زموږ په زيان تمام شوي. د طالبانو له خوا پر پاکستان دومره ډير باور او د خپل هر اقدام له پاره له هغوي څخه مشوره اخيستل، پر دوي د خلکو باور له منځه وړي، نو له همدې کبله ورسره ولسونه نه شي نږدی کيدای. دا چې د دوي واک ته له رسيدلو سره سم پاکستان، ايران او نورو ګاونډيو هېوادونو ته چې کوم پوځي تجهيزات وړل شوي هغه د هيچا له سترګو پټ نه دی پاتې. ورسره سم په تيره مياشت کې د کنړ لرګي په پوره بې شرمۍ د طالبانو د لومړني ټاکل شوي والي له خوا له سلو ډيرو لاريو کې بار پاکستان ته وليږدول شول او ورسره سم د کنړ سيند اوبه د چارتراشو لاندې پټې ښکاريدلې، چې په تيرو حکومتونو کې کله هم دغه ډول ليږدول نه وو ليدل شوي او په سلونو چارتراش په کې د پاکستان په لور روان وو.

په لسګونو عکسونه يې پر ټولنيزو رسينو کې ښکاره شوي چې په تير مهال کې هيڅکله دغه ډول عکسونه نه وو ښودل شوي، چې ټول ولس پوه شوي، دغه عکسونه بيخي وروستي او نوي وو.

تر اوسه خو د ولس د ژوند ژغورنې له پاره او د هيواد ملي شتمنيو په ګټه د طالبانو له خوا کوم ګام نه دی پورته شوی. د سلما بند اوبه چې زيرمه شوي وې،ويل کيږي چې په هماغه لومړيو ورځو کې د ايران په لور خوشې شوي. د دوی راتګ ته د ولس يوازنۍ هيله همدا امنيت وه، چې هغه هم په دې ورځو کې په هېواد کې بمې چاودنو د ټولو باورونه له منځه وړي.

ايا دوي پوهيږي چې يوازې ويره او ډارخپرول يې په واک کې د پاتې کيدلو ضمانت نه شي کولی. ولسونه تر هر څه لومړي خوراکي توکو او درملو ته اړتيا لری، چې دا په پوره درايت او مسوليت سره په بيړه تر سره شي او هغه بايد وخت پورې محدود نه شي، چې دغه ټول د دوي په کړنو کې نه تر سترګو کيږي. نور ځنډ په کې د زغم وړ نه دی ځکه خلک له ولږې مري. د افغانستان له پاره د هند حکومت له خوا د غنمو مرسته چې بايد ډير ژر د هېواد اړمنو خلکو له پاره ورسيږي، پاکستان يې مخه نيسي چې دا د مسول حکومت له لوری بيړنی اقدام ته اړتيا لري، تر څو د شديدی ولږې سره مخ ولسونو له پاره لږه مرسته وشي.

دا ټولو ته روښانه ده چې افغانان له جګړې ستړي دي او هر ډول وسله واله مبارزه د حاکم حکومت پر وړاندې زموږ د رنځونو پاي ته د رسولو درمل نه دي. خو په دې هم د ټولو سر خلاص دی، چې طالب په اوسنی د پرمخ تللي تکنالوژۍ په علم سمبالي نړۍ سره د اړيکو ساتلو او د حکومت چلولو وړتيا نه لري، نو ځکه خو دا ټولو ته جوته ده چې په زور پر ولسونو خپلې زورواکۍ ته ګوک ډير دوام نه شي ورکولی.

په واک کې پاتې کيدل يې هغه وخت شونی ده چې طالبان په هيواد کې مسلکي کدرونه په ډيرې چټکۍ سره په اړوندو مرکزونو کې راټول کړي له ګاونډيو هېوادونو سره د نړيوالو نورمونو له مخې په متقابل درناوی سره چلند وکړي او د خپل ملت بې پريتوب او ازادۍ ته جدي پاملرنه وکړي. د ډيرو افغان سياستوالو غوښتنه دا ده چې طالبان بايد ډير ژر ولسي جرګه راوغواړي، تر څو د خلکو په رائ او خوښه يو پراخ بنسټه حکومت جوړ شي او دوي به هم په کې برخه ولري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ